**www.aidboxcommunity.co.uk**

# AidBoxConnections

د انزوا کمول، ملګرتیا او ټولنو ته وده ورکول

**دا خدمت د چا لپاره دی:۔** هغه خلک چې پې ځایه شوي (کډوال او پناه غوښتونکي) او اوس په برسټول (Bristol) کې اوسیږي، غواړي د یو ملګري سره وګوري او احساس وکړي چې د یوې ټولنې برخه دی.

**دا څنګه کار کوي:** موږ به تاسو د یو 'اړیکې ملګری' (Connection friend) سره یوځای کړو دا به یو دوستانه کس وي چې په بریسټول کې بلد بې او نوي دوست پیدا کولو ته لېواله وي. دوی به تاسو ته په اونۍ کې دوه ځله د خبرو اترو لپاره تلیفون وکړي په داسې وخت کې چې تاسو هریو خوښوی. تر 12 اونیو پورې تاسو کولی شئ دا غوره کړئ:

1. د ABC ښکیلتیا پرته ملګرتیا ډیریدو ته دوام ورکړئ
2. اړیکه بنده کړئ
3. له بل چا سره وصل شئ

موږ به د 12 اونیو په بهیر کې تاسو سره منظم اړیکه وساتو تاسو ته به په هر وخت د اړیکې لپاره چمتو یو که چېرې تاسې کومه شتونزه لری.

د اړیکې ملګری د ملګرتیا لپاره او د انزوا احساس کمولو لپاره دی، نه د ستونزو حل کول یا مشوره ورکولو لپاره. زموږ د اړیکې ټول ملګرو په برسټول کې د شته خدمتونو په اړه روزنه ترلاسه کړې تر څو د کډوالو او پناه غوښتونکو ملاتړ وکړي، نو له همدې امله دوی کولی شي ستاسو سره د مرستې ترلاسه کولو کې مرسته وکړي چې تاسو ورته اړتیا لرئ. دوی له نږدې څارل کیږي ترڅو موږ وکولی شو د هرچا خوندیتوب ډاډمن کړو.

ټولې اړیکې به د تلیفون، واټس اپ، ویډیو زنګ له لارې وي - تاسو به د 12 اونیو برنامې پرمهال په شخصي توګه ملاقات ونه کړئ.

ایموجن (Imogen) او نومي (Naomi) د مرستې بکس اړیکې همغږي کونکي دي او له تاسو سره اړیکه درلودلی شي که تاسو د دې خدماتو سره کومه اندیښنه یا ستونزه لرئ .


- Imogen 07378 663110 imogen@aidboxcommunity.co.uk
- Naomi 07378684891 naomi@aidboxcommunity.co.uk


## د محرمیت بیان

یوازینې معلومات چې موږ به یې له تاسو سره شریک کړو ستاسو د نوم او تلیفون شمیره ده پرته لدې چې موږ ستاسو یا بل چا د خوندیتوب لپاره اندیښنه ولرو. دا به تاسو پورې اړه ولري چې کوم نور معلومات چې تاسو غواړئ د خپل اړیکې ملګري سره شریک کړئ.